مسئولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

سید عبیدالله نادر

۲۰۲۰/۰۶/۰۷

# د مزار پر ډبره

تيټ يی مه بوله، کالبد می ای لحده
يو جهان د خاطرو، درته راغلی

چی غمګين خاطر يی نوري زخمی نه کړی
له دنيا نه په توبو، درته راغلی

خلايقو د عالم نه زړه نيولی
په سوچونو انديشنو، درته راغلی

ډک بارونه يی راوړي له فراقه
په انبار ـ انبار غمو درته راغلی

د عدم له منزلونو، ستړی شوی
په سکروټو، په اغزو درته راغلی

بی ارزیٔ ،او بی قدریٔ نه لاس په سر دی
ارمانجن له ارمانو درته راغلی

داغ يی پرينږدي لحده په کفن کې
په سُتره سُتره جامو، درته راغلی

چي وحشت د دي جهان درته ښکاره شي
په لوخ سر او لوخو پښو درته راغلی

لوړ اسرار دي په دي يو موټي د خاورو
چي په لوړو، خيالو درته راغلی


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليرلو مخکي په ځير و لولئ

په ټول عـــمر په خپل حال و ژړغونی
په ژړا او په سلـــــګو درته راغـــــلی

چی دفتر د خــــــاطرو يي مــحو نه کړې
د دنيا نه په جـــــرګـــــو درته راغلی

دا نازک ـ نازک يـــــادونه يي تل ســـــاته
چـــي په چـنګ او ترانو درته راغــــلی

کم يی مـــه بوله د ده د پښو تنـــــاکي
په اغـــــــزنو رباطـــــو درته راغلی


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولـئ